پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۶/۰۲

# بې سوادي

# او

# د سواد ټيټه سطحه

يوه فرهنګي دوست په خپله فيسبوک پاڼه کې دا تريخ حقيقت ليکلی و چې «... اوس د همدې خاورې بچې له دولسم ټولګي فارغ شي، دومره څه يې زده نه وي چې د دندې اخيستلو لپاره غوښتنليک وليکي.» دی د دولسم فارغ ښيي، ما له پوهنځي فارغ شوي اشخاص وليدل چې د عريضې د ليکلو چل يې نه و زده.

ما په خپله يوه سفر نامه (لار ورکې لاروبان) کې د خپلو سترګو ليدلی حال ليکلی وو چې بهر ميشتي افغان ځوانان خپلو کورنيو ته خپل احوال په بل چا باندې ليکي، خو اوس په افغانستان کې دننه حالات داسې راغلي يا راوړل شوي دي چې ډېرې ځوانان له ښوونځي او پوهنځي نه فارغ وي، خو د سواد کچه يې دومره ټيټه وي چې عريضه په بل چا ليکي.

زموږ د ټولنې په عيني ژوند کې چې هره پاڼه چې را واړول شي او هر اړخ يې وليدل شي، يوه نه، دوې نه لس ،شل، سل نه، بلکې په زرګونه ستونزې مو مخ ته راځي.

خبره زموږ په معارف او د نوي نسل په بيسوادۍ، کم سوادۍ او دې پورې اړوند ستونزو باندې ده. دا سمه ده چې جګړې به زموږ د ژوند پر ټولو برخو باندې منفي اغيز غورولی وي، خو دا د دې مانا نه لري چې موږ دې حالاتو ته تسليم شو، لاس تر زنې لاندې کينو او هر څه په خپل حال پرېږدو. موږ بايد د ستونزو د حل له پاره ژور فکر وکړو او ور سره سنجيده عمل ولرو، په تشو خبرو، چيغو سورو او شعارونو باندې هيڅ نه کيږي.

دا يو عيني واقعيت دی چې د دولت درې واړه ارګانونو کې مفسدين برلاسي دي او اوبه له پاسه خړې دي، خو دې ته مو پام وي چې د ماشو مانو او کوچنيانو په روزلو او لاربنونه کې د کورنيو او ميندو پلرونو رول هم مهم دی. موږ بايد په ټوله مانا او سل په سلو کې دولت، د ښووني روزني وزارت، ښوونځي او ښونکي ملامت و نه ګڼو، خپل ځانته، مور پلار ته او کورنيو ته هم بايد د ملامتيا د سلنې حد ور وښيوو او په کور کې د ماشوم او کوچني د اداري، اخلاقو، زدکړه او په درسونو کې د مرستي طريقه بايد دوی ته ور په ياد شي، ځو کورنی او ميندې پلرونه هم په دې برخه کې خپل مسؤليت درک او په ځای کړي.

په دې خبره د ماشوم او کوچنيانو د روزلو او د ښوني روزني ټول مسلکي کسان په يوه نظر دي چې د سواد په زدکړه کې او د سويې په جګوالي کې د کورنيو او مور پلار ونډه هم مهمه ده.

د ټولنې د يوه او دراکو خلکو حق دی چې د ښوونځيو او ښونکو د سويې د ټيټوالي نه شکايت وکړي، خو د کوچنيانو د سويې ټيټ والی د اصلاح له پاره بايد لار هم وښودل شي، کورنی او ميندې پلرونه بايد کور دننه خپلو مسوليتونو ته هم پاملرنه وکړي.

پر وطن، معارف او نوي نسل باندې د يوه زړه سواندي او دراک قلموال دې کربنو ته پام وکړئ:

«لسګونه کلونه وړاندې، د همدې خاورې بچې به له شپږم ټولګي فارغ شو؛ دومره څه به يې زده کړي و چې ماموريت وکړي.
اوس د همدې خاورې بچې له دولسم ټولګي فارغ شي، دومره څه يې زده نه وي چې د دندې اخيستلو لپاره غوښتنليک وليکي.
مفسدينو، غافلينو او جګړه مارو!
دا بدبخت ولس نور کومې کندې ته تيل وهئ؟ همدا سزا يې بس نه ده؟»

«پنځم ټولګي کې وم. نه ډېر لايق وم او نه ډېر تمبل. پردی خاوره وه. پردی وطن و او تنظيمي مکتب و. مشر ورور مې له ايرانه خط را وليږه. خپله مې په اسانه ولوست. يکې ليکلي يې و: که هر څه دې په کار وي؛ خط را وليږه. خپله مې ځوابي خط وليکه د لاسي ساعت او د شعرونو د کتاب غوښتنه مې وکړه. څو مياشتي وروسته يې راته (ديوان حافظ شيرازي) او ژير (ستيزن) ساعت را وليږه.
زوی مې پنځم ټولګي کې دی. خپل وطن دی. خپله خاوره ده او د خپل حکومت مکتب دی.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خپل درسي کتاب په ډېرې خوارۍ له مخې لولي، املا خو په ځای پرېږده؛ خو هر کال کامیابېږي. د دوی مکتب په امن سیمه کې دی. د هیڅ بلا ویره نشته.
ولسمشره!
بیرونی سیاست پرېږده. له مغرضینو او بدبختو ګاونډیانو سره مقابله پرېږده. پر کورنیو چارو تمرکز وکړه.
چې معارف مو له غافلو، تمبلو، بې کفایتو او مفسدو پاک نشي؛ ستا بیرونی بریا وې هیڅ رنګ نه راوړي.
د معارف بیړی په توپاني سمندر کې روانه ده او نا اهله يې رهبري کوي. په غرقیدو ده. د دې بیړی په غرقیدو ټول نسل غرقیږي.
د معارف رښتینو خادمانو ته دوه لاسي سلام»
اوس به ولسمشر او د دولت نور ارکان تر کومې اندازې او څومره دې شکایتونو او حکایتونو ته پام واړوي، زه پرې نه پوهیږم، خو زما له نظره د ستونزو د حل یوه لاره دا کیدای شي چې د کورنیو او ښوونځیو د ګډې مرستې پروسه عامه او ګړندی کړای شي او دا دود په ټولو خلکو کې عام کړای شي چې تل دې د ښوونځیو او میندو پلرونو په منځ کې د تفاهم یوه رابطه موجوده وي.
د ماشوم او کوچني د سواد زدکړې او سويې د لوړوالي په برخه کې د کورنیو او میندو پلرونود مسؤلیتونو په دایره کې، د نعمان دوست د پاسني پوست په ځواب کې د ده یو فیسبوکي ملګري (فضل ربي شاکر Fazal Rabi Shakir) داسي ور ته لیکلي دي:
«قدرمن دوست صېب! دلته څه ناڅه ملامتیا تاسي ته هم در ګرځي. تاسي هم باید په کور کې خواري ورسره وکړئ. زما تر ټولو کوچني دوه زامن په دوهم ټولګي کې دي، باور وکړئ! تر ډېره بريده روان ليکل او لوستل کولای شي او وجه يې داده، چې زه او مور يې دواړه تر ښوونځي زيات کور کې خواري ورسره کوو.
که په ښوونځي کې يې د ليک لوست زده کړې په طمع شوې، نو اووه کاله وروسته يې هم بې سواده بوله.»
په ټوله نړۍ کې ګنو تجربو دا ښوولي ده چې د ښونځي او کورنۍ ګډه همکاري کولای شي چې د زده کونکو د درسونو او سويې په لوړوالي کې لږه نه، بلکې ډېره مرسته وکړي، خو زموږ په ټولنه کې يوه نه، بلکې په سلګونو او زرګونو ستونزې دي. ښونځی اول نه وي، چې پيدا شي او د ګدايي پيسې ور ته جلا کړای شي، تر نيمايي ډېرې يې د کروپشن يا اداري فساد په شمال کې تالا کيږي او که کوم څه د ښوونځي د ودانۍ په نامه جوړ کړای شي، هغه بيا پتنګان په بمونو الوزوي.



لږ نه دا څو ورځې وړاندې په غزني کې د همدې پتنګانو له لوري د نجونو یو ښونځی د کفر په نامه او د ثواب ګټولو په موخه، په بمونو والوزول شو، بیا یې په میډیا کې خبر په ځیرو تورو داسي ولیکل شو:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«د افغانستان د جنوبي ولایت غزني د مرکز اړوند قره باغي سيمه کې د نجونو يو ښوونځي په بمونو الوځول شوی دی...
د غزني د پوهنې رييس محمد عابد عابد بي بي سي ته وويل، ناپېژانده وسله والو تېره شپه ناوخته (جوزا/غبرګولي لومړۍ) د البيروني د نجونو لېسه په بمونو لمنځه يوړه.
هغه وويل، دا لومړی ځل دی چې غزني کې پر روزنيز مرکز دا ډول بريد کېږي.
د ښاغلي عابد د معلوماتو له مخې، په دغه ښوونځي کې څه دپاسه ۱۲۰۰ نجونو زده کړې کولې او اوس له زده کړو پاتې شول.
د سيمې يوه اوسېدونکي شېراحمد (مستعار نوم) بي بي سي ته وويل، تېره شپه يوه بجه (جوزا/غبرګولي لومړۍ) چاودنې وشوې او سهار څرګنده شوه چې د نجونو ښوونځی ړنګ شوی دی.»
زه نه پوهېږم چې ولې موږ د نورې نړۍ له مثبتو تجربو نه استفاده نه شو کولای. په هغو هيوادونو او ټولنو کې چې د نوي نسل روزنه په سمه توګه کيږي، نوی نسل يې له هره اړخه په نوي ژوند کې د مثبتو شخصيتونو په توګه ګام ږدي، د وضعه شوو قوانينو له مخې خپل ژوند داسې عياروي چې د خپلې ټولنې په جوړولو کې د يوه موثر شخص په توګه واقع شي.
په متمدنه نړۍ کې، چيرې چې د ښووني روزنې په دايره کې انسانان په سمه خوا تللي وي، ورځ تر بلې هر څه په مثبت لوري روان وي د وژنو، جُرمونو او تاوتريخوالي درجه ورځ تر بلې کميږي. ښه بيلګه يې د هالند هيواد دی چې د تاوتريخوالي او کريمينال د نشتوالي په وجه زندانونه تړل کيږي. په يوه [ريپوټ](#) کې راغلي وو چې په ۲۰۱۳ کال کې پنځه زندانه وتړل شول، او اوس هالندي چاواکي هوډ لري چې د ۲۰۱۷ کال د اګست د مياشتې تر پايه پورې پنځه نور زندانونه د دې له پاره وتړي چې په دې هيواد کې بنديان او مجرمين نه شته.
دا هر څه د ښې ، نوې ښوونې روزنې او نوي تعليم برکت دی چې ټولنه او خلک د مثبتو بدلونونو داسې پړاو ته رسيدلي دي چې د مجرمينو او بنديانو د نشتوالي په وجه زندانونه تړل کيږي، خو له بده مرغه چې زموږ په ټولنه کې د نا پوهۍ، او تعليم د نشتوالی او يا خرابوالي په وجه هر څه سر چپه دي، زندانونه ډيريږي او هديرې مو اوږديږي، او خلک مو له فزيکي پلوه د يوويشتمې پيړۍ په ۲۰۱۷ کال کې ژوند کوي، خو په فکري يې د زړو کلنو وړاندې باغچو کې سر ګردانه چکر وهي. زما له نظره د حل يوازينۍ لاره دا ده، په هر بيه چې کيږي بايد نوی نسل په زړه سوي سره، د زړو افکارو له لمو را خلاص او په نوې او متمدنه بڼه وروزل شي او که داسې و نه شي نو د راتلونکو نسلونو حال به مو تر دې هم خوار وي.



پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ